Right lung and pleura
Right vagus nerve
Left side -
Aortic arch
Thoracic duct
Left lung and left pleura

Abdominal part


Left crus of د مری بطنی برخه په قدام کی د ځکر د بنی فص او په خلف کی diaphragm سره ارتباط لری.

Anatomic structure of Esophagus

مری د داخل ځخه خارج ته د لاندی طبقاتو ځخه جوړه شوی د:

- Mucosa layer
- Sub mucosa layer
- Muscular layer
  - Outer longitudinal
  - Inner cicular muscle
  - Serosal layer

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

4: Stomach

معده

معده د هضمی سیستم ترټولو پراخه برخه ده. د Esophagus او کوچنیو کولمو ترمنځ قرار لری، د بطن په چپ علوی قسمت کی له Left hypochondriac څخه تر Epigastric او Umbilical ناحیو پوری د چپ حجاب حاجز لاندی د Transvers colon او Transvers mesocolon څخه پورته موقیعت لری.

د معدی خارجی شکل:

یوه تشه معده د (J) د توری شکل لری خو کوم وخت چی معده د غذایی موادو څخه ډکه شی نو یو اندازه متوسع کیږی، چی متوسع معده د ناک یا Piriform شکل لری.

دوه فوهی لری:

- Pyloric orifice
- Cardiac orifice

دوه انحناګانی یا Curvature لری:

- Greater curvature
- Lesser curvature

او دوه سطحی لری:

- Anterior
- Posterior

د معدی ظرفیت په اوسط ډول د پیدایښت په وخت کی 30ml د بلوغت په وخت کی 100ml او د کهولت په وخت کی 1,5-2liters پوری رسیږی.

Parts of Stomach

د معدی اجزاوی

معده د هغه خط په واسطه چی د Angular notch څخه بنکته او چپ خواته د معدی لوی انحنی په طرف امتداد لری په دوه عمده برخو ویشل کیږی چی عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Cardiac part ■

د معدی دا برخه چی نومورۍ خط څخه (هغه خط چی د Angular notch څخه بنکته او چپ خواته د معدی لوی انحنی په طرف امتداد لری) پورته قرار لری. دوه برخی لری:

- Fundus
- Body

Pyloric part ■

د معدی دغه برخه د خط څخه لاندی قرار لری او په خپل منځ کی په دوه برخو ویشل کیږی. چی عبارت دی له:

- Pyloric antrum
- Pyloric canal

د معدی داخلی شکل:

کله چی معده خالی وی نو د معدی مخاطی غشاء په زیاته اندازه التوٴات چی د Gastric rugae په نوم یادیږی لری.


په هره ناحیه کی چی برامده گی یا التواء وی نو هلته فرورفتگی هم لیدل کیږی چی د خالی معدی د مخاطی غشاء فرورفتگی د Gastric pits په نوم یادیږی.


Anatomical structure of Stomach

د معدی جدار له داخل څخه خارج خواته د لاندی طبقاتو څخه جوړ شوی دی:

- Mucosal layer
- Submucosal layer
- Muscular layer
  - چی ددی خارجی برخه د طولانی عضلی الیافو څخه تشکیل شوی ده
  - ددی داخلی برخه د حلقوی عضلی الیافو څخه تشکیل شوی ده.
- Serosal layer

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

Peritoneum

دا یوه سیروزی غشاء ده چی Abdominal cavity او Pelvic cavity یی پوښلی دی.

بطن د مطالعه کولو لپاره د دوه دانو Transvers lines او دوه دانو Vertical lines له مخی په نهه ناحیو ویشل شوی دی:

Right upper quadrant Liver, Gallbladder	Epigastrium Stomach, Pancreas	Left upper quadrant Speen, tail of pancreas
Right lumber Right kidney, right ureter	Imblicas (Umblical) Small and large intestine	Left lumber Left kidney, left ureter
Right iliac Fossa Appendix, Ceacum, right ovary	Hypogastrium (Pubic area) Urinary bladder, uterus	Left iliacFossa Left ovary, sigmoid colon

Omentum (Epiplon)

یو Double layer دی د Greater curvature څخه شروع کیږی تر Symphysis pubis پوری او بیا بیرته Transvers colon برخی پوری رسیږی.

Greater omentum یا Major د معدی او Transvers colon ترمنځ جوړیږی.

Lesser omentum یا Minor د Lesser curvature څخه شروع کیږی او Duodenum او Liver سره وصلوی.

Peritoneum دوه ډولونه لری:

- Parietal peritoneum
- Visceral peritoneum

د ځیګر او کولمو ترمنځ دوه ډوله Ligament جوړیږی:

- Hepato gastric ligament

د ځګر او معدی ترمنځ جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hepato duodenal ligament -


د ځګر او وړو کولمو ترمنځ جوړیږی.

وظیفه: د بطن په جوف کی د انتان مخنیوی کوی.

Omentum چی دی Mobilize دی او دا ساحه د هر ډول خطر څخه ساتی یعنی Policeman دی. د داخل بدن ساتنه کوی د انتان په مقابل کی.

لکه: کله چی Appendix غټ شی نو دا omentum راځی او دا ساحه Cover کوی که چیری وچوی نو دا مضر شیان نه پریږدی چی بدن ته خواره واره شی. که هر قسم مضر شی Abdominal cavity ته راشی ددی په واسطه Cover کیږی.

Peritoneum یوه Double layer ده چی کله ساحه منتن شی نو ساحه Cover کوی تر څو انتان بدن کی خواره نه شی.



5: Small Intestine

وړي کولمی

وړی کولمی د معدی د Pylorus برخی څخه شروع او تر ileocecal junction پوری امتداد لری. چی تقریباً 6m اوږودوالی لری.

وړی کولمی په دری برخو ویشل شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

■ Duodenum اثناء عشر

دغه برخه د دولس ګوتو په اندازه چې 10inch یا 25cm اوږودوالی لري. د وړو کولمو دغه برخه لنډه مګر پراخه ده چې د معدی د Pylorus برخی څخه شروع تر Duodeno jejunal flexure پورې اوږودوالی لري. (Flexure تاو کښې ته وایی)

C توری په شان شکل لري، اثناء عشر برخه په څلورو برخو ویشل شوی ده.

- Upper part of Duodenum

د اثناء عشر دغه برخه دوه انچی اوږودوالی لري، دغه برخه د Pylorus څخه شروع کیږی د Superior duodenal flexure پورې امتداد لري په Level د لومړی Lumber vertebrae ښی خواته دوه انچی پورې اوږودوالی لري.

- Descending part of Duodenum

د اثناء عشر دغه برخه دری انچی اوږودوالی لري دغه برخه له Superior duodenal flexure څخه شروع کیږی تر Inferior duodenal flexure پورې امتداد لري. د لومړی او دوهمی Lumber فقری په ښی خواکی قرار لري. او دغه برخه د پریتوان په واسطه پوښل شوی ده، د اثناء عشر د دغی برخی داخلی سطحه د خاصو ساختمانونو درلودونکی ده چې هغی ته Papilla وایی، او په دوه ډوله ده:

I: Major duodenal papilla

نوموړی Papilla د Pylorus څخه 8-10cm په فاصله کی د اثناء عشر د دوهمی برخی د داخلی سطحی په خلفی انسی قسمت کی قرار لري. او د Hepato pancreatic ampulla فوهه په همدی Papilla کی د اثناء عشر lumen ته خلاصیږی.

II: Minor duodenal papilla

نوموړی Papilla د 6-8cm په فاصله کی د Pylorus څخه قرار لري، او د Accessory pancreatic duct فوهه په همدی Papilla کی د اثناء عشر Lumen ته خلاصیږی.

- Transvers or Horizontal part of duodenum

د اثناء عشر ددی برخی اوږودوالی تر 4inch پورې رسیږی دغه برخه د Inferior duodenal flexure څخه شروع کیږی په Level د دریمی او څلورمی Lumber فقری باندی د Abdominal aorta باندی ختمیږی، د اثناء عشر دغه برخه هم د پریتوان په واسطه پوښل شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ascending part of duodenum -

د اثناء عشر دغه برخه یو انچ اوږودوالی لری دغه برخه د Abdominal aorta په چپ خواکی پورته د دوهمی Lumber فقری تر علوی کنار پوری امتداد لری او په Duodeno jejunal flexure باندی ختمیږی.

■ Jejunum and ileum

دا د وړو کولمو متحرکه برخه ده چی د بطن د خلفی جدار څخه د Mesentery په واسطه ځوړنده ده. وړی کولمی تقریباً 6,7m اوږودوالی لری چی له دی څخه 25cm د اثناء عشر برخه او باقی 2/5 برخه د jejunum او 3/5 برخه د ilium په واسطه جوړیږی.

Jejunum د Duodenal jejunal flexure څخه شروع کیږی او ileum په ileocecal junction باندی خاتمه پیدا کوی.

د ilium او jejunum ترمنځ عمده فرقونه

لومړی په نامه باندی له پاسه یو عرضانی(افقی) او بله عمودی کرښه رسمو چی گیډه په څلورو برخو ویشل کیږی:

- Right upper quadrant ■
- Right lower quadrant ■
- Left upper quadrant ■
- Left lower quadrant ■

فرقونه:

Ileum	Jejunum	
Almost right lower quadrant	Mostly left upper quadrant	موقیعت
Lumen یی تنګ او ډک وی	Lumen یی اکثره خالی او پراخه وی	جوف
جدار یی نازک اوکم وعایی وی	جدار یی ډخیم او ډیر وعایی وی	جدار
ویلای یی لنډ نازک او کم وی	ویلای یی اوږده، ډخیمه او ډیر وی	Villi
د شحمو کتلات یی زیات دی	د شحمو کتلات یی کم دی	Mesentery
لری Payer's paches	No payer's paches	Payer's paches

Anatomic Structure of Small intestine

وړی کولمی د داخل څخه خارج ته د لاندی طبقاتو څخه جوړ شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Mucosal layer -
Muscular layer -
Serosal layer -

Mesentery


د پریتوان یوه ډبله طبقه ده چې ilium او jejunum د بطن د وروستی یا شاتنی دیوال سره وصلوی، دوه برخی لری:

- **Free border (Intestinal border)**

دغه برخه یا کنار د کوچنی کولمو سره وصل شوی دی.


- **Root of Mesentery**

دا برخه د Abdominal wall د شاتنی برخی سره وصل ده.



(a)

(c) ketabton.com: The Digital Library



6: Large intestine

غټي کولمی

غټی کولمی د ileocecal junction څخه تر Anus پورې امتداد لري، تقریباً 15m طول لري. په غټو کولمو کی د موادو ذخیره او د مایعاتو او الکترولایتونو جذب صورت نیسی.

Deference Between small and large intestine

د غټو او وړو کولمو ترمنځ عمده فرقونه

- د غټو کولمو قطر په نسبت د وړو کولمو زیات دی
- غټی کولمی په نسبت د وړو کولمو پراخه دی
- غټی کولمی Taunia coli لری خو وړی کولمی دغه ساختمانونه نه لری

غټی کولمی لاندی برخو څخه تشکیل شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Caecum

Caecum د غټو کولمو ابتدایی برخه ده چې په Right iliac fossa کې د ileocecal orifice څخه لاندې موقیعت لري، Caecum په علوی د Ascending colon سره په انسی کې د ilium سره او په خلفی انسی کې د Appendix سره اتصال لري.

Caecum تقریباً 6cm جګوالی لري او 7,5cm عرض لري.

Types of caecum

- **Conical shape**

په 13% اشخاصو کې پیدا کیږي، مخروطی شکل لري او Appendix یې له څوکې منشاء اخلي.

- **Inter mediate shape**

په 90% خلکو کې تصادف کوي او د یو Depression په واسطه په دوه مساوی برخو Cecal pouches ویشل شوی، اپنډکس یې د دواړو خواو ترمنځ ژوروالی څخه منشی اخلي.

- **Ampullary Type**

په 78% خلکو کې تصادف کوي په دې ډول کې بنې خوا Pouch واضح او پراخ دی. او Appendix یې له Postero medial wall څخه منشی اخلي.


Vermiform Appendix

Appendix د Caecum یوه استطاله ده چې په Right iliac fossa کې د ileocecal orifice څخه 2cm لاندې د Caecum د خلفی انسی جدار څخه نشت کوی. Appendix تقریباً 2-20cm پورې طول لري چې متوسط طول یې تقریباً 9cm دی او قطر یې 5mm دی.

Types of Appendix due to TIP (د سیر له نظره د اپنډکس ډولونه)

- Retrocecal	74% واقیعات
- Subcecal	1-5%
- Paracecal	2%
- Pelvic	21%
- Preileal	1%
- Postileal	0,5%

(c) ketabton.com: The Digital Library



Copyright ©2006 by The McGraw-Hill Companies, Inc.
All rights reserved.

MC Burney's Point

که له Right anterior iliac space څخه تر نوم پورې ساحه په درې برخو وویشو، نو دوه برخو انسی او یوې برخې وحشی د یوځای کیدلو نقطه د Appendix له قاعدې سره سمون خوري او د MC Burney's Point په نوم یادیږي.

■ Ascending Colon

دغه برخه چې تقریباً 5inch یا 12,5cm اوږودوالی لري، چې له Caecum څخه د ځګر د ښې لوب تر Inferior surface پورې امتداد لري، په همدغې ځای کې چپ لورې کږیږي او یوه زاویه جوړوي چې Right colic flexure یا Hepatic flexure په نوم یادیږي، دغه کولون د پریتوان شاته قرار لري.

■ Transvers Colon

تقریباً 50cm اوږودوالی لري او له ښې Colic flexure څخه تر چپ Colic flexure پورې امتداد لري، په حقیقت کې دغه Colon Transvers نه بلکې د ګیډې په جوف کې د Transvers mesocolon په واسطه ځوړند دی.

■ Descending Colon

دغه کولون 25cm اوږودوالی لري او د Left colic flexure څخه تر Sigmoid colon پورې امتداد لري، دغه برخه معمولاً د پریتوان شاته قرار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sigmoid Colon

د کولونو دغه برخه 37,5cm اوږدوالی لری، د Descending colon او Rectum ترمنځ د حوصلی په جوف کی دپریتوان په داخل کی موقعیت لری. او د Sigmoid mesocolon په واسطه ځوړند دی.

Rectum and Anal canal

د هضمی قنات لاندینی برخه د Rectum او Anal canal په واسطه جوړه شوی ده، د ګیډی اضافه مواد دلته راځی ترڅو د Anus له لاری خارج شی.

- Anus: the external opening of anal canal

Rectum د Sigmoid او Anal canal ترمنځ قرار لری.

Rectum د Retro sigmoid junction څخه شروع کیږی د حوصلی په خلفی جدار کی د Anorectal junction پوری امتداد لری Anorectal junction د 2-3cm فاصله د Coccyx هډوکی د څوکی په قدامی سفلی قسمت کی قرار لری، د دریمی Sacral فقری سره برابردی طول یی تقریباً 12cm دی قطر یی په پورته برخه کی د Sigmoid colon د قطر په شان دی خو په سفلی برخه کی یی قطر لږ پراخه دی او ددی پراخوالی په نتیجه کی Rectal ampulla جوړیږی.

Curvatures

Rectum پنځه دانی انحنیّ ګانی لری:

خلفی انحنی یی د Sacral flexure په نوم یادیږی.

قدامی انحنی یی د Perineal flexure په نوم یادیږی.

او دری جنبی یا Lateral انحنی ګانی لری چی عبارت دی له:

- Upper right curvature
- Middle left curvature
- Lower right curvature

Anal canal

د غټو کولمو ورستنی برخه ده، Anal canal تقریباً 3,8cm پوری طول لری او د Anorectal junction څخه تر Anus پوری امتداد لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Internal part of anal canal

د Anal canal داخلی برخی په دری عمده برخو ویشل شوی دی:

- Upper part

د Anal canal دغه برخه 15mm اوږودوالی لری او د مخاطی غشاء په واسطه پوښل شوی ده. په دی برخه کی د 6 څخه تر 10 پوری د مخاطی غشاء عمودی التواء ګانی وجود لری.

دغه التواء ګانی د Anal columns په نوم یادیږی.

د Anal columns سفلی نهایتونه د وړو عرضانی التواګانو په واسطه سره یوځای شوی چی دغه عرضانی التواګانو په واسطه سره یوځای شوی چی دغه عرضانی وړی التواګانی د Anal valve په نوم یادیږی. د هر valve په علوی مخاطی عشاء کی کمه اندازه فرورفتګی لیدل کیږی چی Anal sinus ورته وایی.

د Anal valve له یوځای کیدو څخه په مجموع کی یو خط په لاس راځی چی د Anal canal ګردچاپیره قرار لری او د Pectinate line په نوم یادیږی.

- Meddle part

د Anal canal دغه برخه هم 15mm اوږودوالی لری دا هم د mucus membrane په واسطه پوښل شوی ده خو دلته Anal columns وجود نه لری دغه برخه د Pectin یا Transitional zone په نوم هم یادیږی. دغه برخه د لاندینی برخی څخه د یو سپین رنګه خط په واسطه چی White line of Hilton نومیږی جلا شوی ده.

- Lower part

دغه برخه چی 8mm اوږودوالی لری، د پوستکی په واسطه پوښل شوی ده چی لرونکی د Sweat glands او Sebaceous glands دی.

Sphincter of Anal canal

Anal canal دوه Sphincter لری چی عبارت دی له:

- Internal anal Sphincter

یو خود کاره غیری ارادی Sphincter دی او د Circular muscle د ضخامت په اساس په کولمو کی منځ ته راځی او د Anal canal پورتنی 30mm برخه احاطه کوی یعنی د Anorectal junction څخه تر white line of Hilton پوری امتداد لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

External Anal sphincter -

یو ارادی Sphincter دی او د مخططو عضلی الیافو څخه جوړ شوی دی چی تول Anal canal یی احاطه کړی دی، دغه Sphincter دری برخی لری:

I: Subcutaneous Part

د Internal sphincter څخه لاندی واقع ده او د Anal canal لاندینی برخه احاطه کوی.

II: Superficial Part

بیضوی شکل لری چی په خلف کی د Coccyx هډوکی له Apex سره د Anococcygeal body په واسطه او په قدام کی د Perineal body سره نښتی ده.

III: Deep Part

دا پورتنی برخه احاطه کوی او دا هم د هډوکو سره تماس نه لری.

Defecation

Hemorrhoids

د Anal canal او Rectum وریدی تخلیه د لاندی رګونو په واسطه صورت نیسی.

- Internal rectal venous plexus
- External rectal venous plexus
- Anal vein


که د مقعد ساحه له ساعته سره مقایسه کړو نو د 7,8 او 11 بجو په برخو کی د رګونه په نارمل ډول پراخه او لږ پرسیدلی وی. کله چی د هر علت له کبله د پورته دریو رګونو تخلیه صورت ونه نیسی، نو په دغو ساحو کی د پرسوب د زیاتوالی سبب کیږی چی دا حالت د بواسیرو یا Hemorrhoids په نوم یادیږی چی اکثره وخت یی اسباب په لاندی ډول وی:

- Constipation قبضیت
- د بطن د فشار پورته والی
- د اودس د ماتولو په وخت کی ډیر زور وهل
- د ډبنو په سر ډیر کیناستل
- اوبه کمی استعمالول- غیری فایبری غذا او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بواسیر په دوه ډوله دی:

- **External Hemorrhoids**
- **Internal Hemorrhoids**



(c) ketabton.com: The Digital Library

7: Liver

ځیګر

ځیګر د بدن غټه افرازوی غده ده چی له Right hypochondrium څخه علوی او چپ خواته تر Left hypochondrium پوری امتداد لری. ځیګر ټول Right hypochondrium د Epigastrium پورتنی برخه او په کمه اندازه Left hypochondrium علوی انسی برخه نیولی ده. رنګ یی نصواری دی وزن یی په نارینه وو کی تقریباً 1600gr او په ښځو کی تقریباً 1300gr ته رسیږی ځکر د Ribs او Costal cartilage په واسطه پوښل شوی دی.

External feature

د ځیګر خارجی شکل

ځیکر د فانی په شان شکل لری خو د مخی څخه د مثلث په شان ښکاری، ځیګر پنځه سطحی لری:

Ant, Post, Sup, Inf, and Right

په دی سطحو کی یواځی Inferior سطحه واضحه ده ځکه چی سفلی Inferior border یی ښه واضح او متبارز دی. او نوری سطحی د یو بل په ادامه قرار لری.

One prominent Border

سفلی کنار یی قدام خواته ښه تیره دی چی قدامی سطحه له سفلی سطحی څخه جلا کوی، نوموړی کنار په وحشی کی پخ معلومیږی چی ښی سطحه له سفلی سطحی څخه جلا کوی.

د سفلی کنار په قدام کی دوه Notches دی چی عبارت دی له:

- Notch of ligament teres
- Cystic notch for the fundus of the gallbladder

Lobes of Liver

ځیګر په قدام او علوی کی د Falciform ligament په واسطه په سفلی کی د Ligament teres د Fissure په واسطه اوپه خلفی کی د Ligament venosum د Fissure په واسطه په دوه Lobes ویشل شوی چی یو یی ښی لوب او بل یی چپ لوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

The Right lobe

ښی لوب په نسبت د چپ لوب ډیر غټ او د ځیګر 5/6 برخه جوړوی دغه لوب په دوه نورو لوبونو ویشل شوی دی:

Caudate lobe -

دغه لوب د ځیګر په خلفی سطحه کی موقعیت لری.

The Quadrate lobe -

د ځیګر په سفلی سطحه کی موقیعت لری او مستطیلی شکل لری. دغه دواړه لوبونه د Porta hepatis په واسطه سره بیل شوی دی.

The Left Lobe

دغه لوب د ځیګر 1/6 برخه جوړوی.

د Porta hepatis له لارې Portal vein، Hepatic artery او Hepatic duct ځیګر یا Liver ته ننوځی.

Ligaments of the liver

- **Falciform Ligament**

دغه Ligament د ځیګر قدامی علوی سطحه د بطن د قدامی جدار او د حجاب حاجز لاندی سطحی سره مرتبط کوی.

- **Left triangular Ligament**

د ځیګر د چپ لوب علوی سطحه د حجاب حاجز سره مرتبط کوی(وصلیږی)

- **Right triangular Ligament**

د ښی لوب د خلفی سطحی وحشی قسمت له Diaphragm سره وصلیږی.

- **Coronary Ligament**

دغه Ligament چی دوه پوښنه لری(علوی او سفلی) د ځیګر Bare area پوښنوی، دغه Ligament ځیګر ته استناد ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Function of the liver

ځیګر تقریباً تر 500 پورې حیاتي دندې په غاړه لري خو عمده یې په لاندې ډول دي:

- **Metabolic Function**

ځیګر د کاربوهایدریتونو، پروټین او شحم په استقلاب کې رول لري.

- **Synthetic Function**

ځیګر د Bile او د Prothrombin په جوړیدو کې رول لري.

- **Excretory Function**


ځیګر د دواګانو توکسینې موادو،Cholesterol او Bile pigments په اطراح کې رول لري.

- **Protective Function**


ځیګر د Phagocytosis، Destruction ، Anti-body Formation او اطراح په واسطه وجود د مضره موادو له ضرر څخه محافظه کوي.

- **Storage Function**

ځیګر د ګلوکوز (ګلایکوجن په شکل) اوسپنې، شحم، A او D ویټامینونه او د وینې د خیروی وظیفه په غاړه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

Extra Hepatic Biliary Apparatus

صفراوی جهاز

صفراوی جهاز هغه صفرا چی په ځیګر کی جوړیږی هغه جمع کیږی او Gallbladder ته د ذخیره کیدو په خاطر نقلوی یا انتقالوی او له Gallbladder څخه د ضرورت په وخت کی نوموړی صفرا د Duodenum په دوهمه برخه کی تویږی، نوموړی جهاز د لاندی ساختمانونو څخه تشکیل شوی دی:

- Right and left hepatic duct
- Common hepatic duct
- Gallbladder
- Cystic duct
- Bile duct

8: Gallbladder

کیسه صفرا

کیسه صفرا چی د صفرا د ذخیره کیدو ځای دی د ناک شکل لری، چی د ځیګر د ښی لوب په سفلی سطحه کی قرار لری د Porta hepatis د ښی نهایت څخه د ځیکر د سفلی کنار پوری امتداد لری. صفراوی کڅوړی د 7-10cm پوری اوږودوالی لری. 3cm عرض یا پراخوالی لری او د 30-50cc پوری ظرفیت لری.

دری برخی لری:

- Fundus
- Body
- Neck

د Bile duct برخی:

- Supra duodenal part
- Retro duodenal part
- Infra duodenal part
- Intra duodenal part

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sphincters related to bile duct and pancreatic duct

د Bile duct په اخری برخه کی مخکی له دی چی د Pancreatic duct سره یوځای شی د Smooth muscle د کړیو په واسطه احاطه کیږی چی Sphincter جوړوی او دغه Sphincter د Sphincter choledochus په نوم یادیږی.


Choledochus Sphincter

دا Sphincter د Common bile duct په وروستی برخه کی د Hepato pancreatic Junction دپاسه موقیعت لری. یو بل Sphincter د Pancreatic duct په اخیری برخه کی وجود لری چی د Sphincter pancreatic us په نوم یادیږی، دریم Sphincter د Hepato pancreatic ampulla ساحه احاطو کوی د Ampulla Sphincter په نوم یادیږی.

د پورته دری واړه سپینکټرو مجموعی ته به یی پخوا Sphincter oddi ویل کیده مګر اوس یواځی Ampulla sphincter د Sphincter oddi په نوم یادیږی.

دصفراوی کڅوړو دندی

- د Bile ذخیره کول
- د اوبو جذبول
- د Bile غلیظول
- په صفراوی سیستم کی د فشار تنظیم
- په کمه اندازه صفراوی مالګی او کولسترول جذبول



(c) ketabton.com: The Digital Library

9: Pancreas

پانکراس

دغه غده یو Mix غده ده چی هم د Endocrine او هم د Exocrine برخی لری.

پانکراس د بطن په خلفی جدار کی په عرضانی ډول د اول او دوهم Lumber فقراتو په برابر د معدی شاته د اثناء عشر څخه تر توري یا Spleen پوری امتداد لری.

د J د توری په شان شکل لری. اوږودوالی یی د 15-20cm پوری دی،عرض یی 2,5- 3,8cm پوری دی، ضخامت یی 1,2-1,8cm ته رسیږی او تقریباً 90gr وزن لری.

د اناټومی له نظره پانکراس د ښی لوری څخه چپ لوری ته په څلورو برخو ویشل شوی دی:

- Head
- Body
- Neck
- Tail

خو د فزیولوژی له نظره پانکراس دوه برخی لری:

- Endocrine
- Exocrine

Head of pancreas

د Head برخه یی اوږده او پلنه ده چی د پانکراس ښی نهایت او د اثناء عشر په انحنا کی موقیعت لری. دری کناروته یا Borders لری:

- Superior
- Inferior
- Right lateral

او دوه سطحی یا Surfaces لری:

- Anterior
- Posterior

And having a process projecting from lower and part of the head left known as uncinate process.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Neck of Pancreas

د Head او Body ترمنځ موقعیت لری او 2cm اوږودوالی لری، د دوه سطحو قدامی او خلفی درلودونکی دی.

Body of pancreas

د پانکراس اوږده برخه ده چی له Neck څخه Tail پوری اوږودوالی لری، دری کناروونه یا Borders لری:

- Anterior
- Superior
- Inferior

دری سطحی لری:

- Anterior
- Posterior
- Inferior

Tail of pancreas

د پانکراس تنګه برخه ده چی چپ نهایت یی جوړوی.

Ducts of pancreas

- **Main pancreatic duct of Wirsung**

د پانکراس له لکی څخه شروع کیږی او بلاخره د Bile duct سره یوځای کیږی او Hepato pancreatic ampulla جوړوی. ددی Duct قطر 3mm او اوږودوالی یی 8-10cm پوری دی.

- **Accessory Pancreatic Duct or Santorini**

د پانکراس د سر برخی څخه شروع او بلاخره د Duodenum په دوهمه برخه کی خلاصیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Function of Pancreas

- پانکراس د اندوکراین برخه هورمونونه افرازوی لکه: انسولین
- د پانکراس اګزوکراینی برخه هضمی انزایمونه ترشح کوی لکه:

I: Trypsin – Break down protein

II: Amylase - Break down starch and glycogen into disaccharide

III: Lipase – Break down lipid into fatty acids or glycerol



(c) ketabton.com: The Digital Library

10: Spleen

تورې

Spleen په زیاته اندازه په Left hypchordium او لږ څه په Epigastrium کی موقیعت لری په Level د 11 او 9 پښتی. د فانی یا Wedge په شان شکل لری خو خینی
وختونه بیا څلور ضلعی شکل لری.
ضخامت یی 2,5cm، اوږودوالی یی 12,5cm، عرض یی 7,5cm او وزن یی 7ownce یا
212gr دی.
تور بانجانی شکل لری.

External Features of Spleen

دوه نهایتونه لری:

- Anterior
- Posterior

دری کنارونه یا Borders لری:

- Superior
- Inferior
- Intermediate

او دوه سطحی لری:

- Diaphragmatic surface

دغه سطحه محدبه ده او همواره ده.

- Visceral surface

دغه سطحه مقعره او غیری منظمه ده او لاندی فرورفتکی Impressions لری:

- Gastric Impression

دغه فرورفتکی د معدی د Fundus په اثر منځ ته راغلی او د علوی کنار او Intermediate کنار ترمنځ موقیعت لری.

- Renal Impression

د چپ پښتورگی په اثر منځ ته راځی او د سفلی او وسطی کنارونو ترمنځ واقع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Colic Impression -


دغه فرورفتګی د کولون د Splenic flexure پورې مربوط ده.

Pancreatic Impression -

دا یوه یې د پانکراس د لکې پورې مربوط ده چې د توري د Hilus او Colic impression ترمنځ قرار لري.

Function of Spleen


- Phagocytosis
- Immune Response
- Haemopiosis
- Storage of RBC



(c) ketabton.com: The Digital Library

9th chapter

Respiratory System





Mr.18

Kefayatullah.naibamani

Mr.18 | BY: KEFAYATULLAH NAIB AMANI 078 4 59 75 49

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنفسی سیستم

Respiratory system

تنفسی سیستم د لاندی اعضاوو څخه جوړ شوی دی:

- Nose
- Pharynx
- Larynx
- Trachea
- Bronchi
- Lungs- Alveoli

دغه سیستم په دوو برخو ویشل شوی دی:

- Conducting Portion
- Respiratory Portion

Conducting Portion

انتقالی برخه

په دی برخه کی یواځی د هوا انتقال صورت نیسی. او دوه مهمی دندی اجراء کوی:

- سږو ته د هوا د داخلیدو لپاره یوه خلاصه لاره ده.
- د هوا برابرول چی لاندی شیان پکی شامل دی:
  د هوا صافوالی او پاکوالی
  د هوا مرطوبه کول
  د هوا معتدل والی

په دی برخه کی لاندی غړی شامل دی:

- Nose
- Nasopharynx
- Larynx
- Trachea

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Bronchi
- Terminal Bronchiole
- Lungs

Respiratory Portion

تنفسی برخه

د تنفسی سیستم هغه برخه ده چیرته چی د هوا تبادله صورت نیسی او د لاندی غږو څخه جوړه شوی.

- Respiratory Bronchiole
- Alveolar duct
- Alveolar sac
- Alveoli

په ځینو کتابونو کی Alveolar atrium هم ددی یوه بله برخه یادوی.

Nose

پوزه

پوزه د هرم شکل Pyramidal shape لری، موقعیت یی د مخ په قدام کی د Medline په امتداد دی. د پوزی چوکاټ په علوی کی د Frontal process of maxilla، Nasal bone او Nasal process of frontal bone په واسطه او په سفلی کی نومورې چوکاټ د Nasal cartilage (علوی او سفلی) او Septal cartilage په واسطه جوړ شوی دی.

د جوړښت له نظره پوزه له دوه برخو څخه جوړ شوی ده:

■ External nose خارجی برخه

دغه برخه په علوی برخه کی له تندی سره ارتباط لری خو سفلی برخه یی ازاده ده چی د Naris یا Nostril په نوم دوه سوری لری، ښی او چپ. دغه سوری په وحشی برخه کی د Ala nasi او په انسی کی د Septal nasi په واسطه احاطه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Internal nose (Nasal cavity) ■

دغه برخه د Nasal septum په واسطه په ښی او چپ لوری ویشل شوی ده، دغه دواړه لوری په قدام کی مخ ته د Nostrils په واسطه خلاصیږی او په خلف کی د Nasopharynx په ذریعهNasal aperture ته خلاصیږی.

دا دواړه خواوی یوشان جوړښت لری نو یواځی یوه برخه تری مطالعه کوو

په هره یوه برخه کی لاندی جوړښتونه موجود دی:

- Roof

د پوزی چت په قدام کی د Nasal bone او Nasal part of frontal bone څخه جوړ شوی دی. په Middle کی د Cribriform palate of ethmoid bone څخه جوړ شوی دی.

او په خلف کی د Body of sphenoid bone څخه جوړ شوی دی.

- Floor

په قدام کی د Palatine process of maxilla bone څخه جوړ شوی دی. او په خلف کی د Horizontal palate of palatine bone څخه جوړ شوی دی.

- Medial wall (Nasal septum)

په Superior کی د Vertical palate of ethmoid bone، Posteroinferoir کی د Vomer bone او په Anteroinferior کی د Septal cartilage څخه ترکیب شوی دی.

- Lateral wall

د پوزی دغه برخه د دری شیانو څخه ترکیب شوی ده:

I: Conchae

هډوکینی متبارزی برخی دی چی د مخاطی غشاء په واسطه پوښل شوی دی. او په دری ډوله دی:

Superior conchae

Middle conchae

Inferior conchae

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هری Conchae لاندی یو ژوروالی شته چی د Meatus په نوم یادیږی ددی تعداد هم دری دانی دی:

Superior nasal meatus

د Sup nasal conchae څخه لاندی واقع ده او د Posterior ethmoidal air sinus افرازات ورته راځی.

Middle Meatus

په دی برخه کی یو دایروی یا بیضوی شکله جوړښت وجود لری چی د Bulla ethmoidalis په نوم یادیږی او د Middle ethmoidal air sinus افرازات ورته راځی، ددی جوړښت څخه لاندی یو درز وجود لری چی نیمه هلال مانند شکل لری او د Hiatus semilunaris په نوم یادیږی او په مجموع کی ورته د لاندی برخو افرازات راځی:

- Anterior Ethmoidal air sinus
- Frontal air sinus
- Maxillary air sinus

Inferior Nasal meatus

د Inf nasal conchae او د پوزی د Roof ترمنځ یو مثلثی ډوله جوړښت دی چی د Sphenoidal air sinus افرازات ورته راځی.

Vestibule

Nasal cavity superior to the nares. Or it Is the anterior dilated part of the nasal cavity. The vestibule is lined by skin continuous with that on the exterior of the nose, hair and sebaceous glands are present.

د پوزی په جوف کی دوه ډوله Mucous membrane وجود لری:

- Respiratory Mucosa

دغه مخاطی غشاء د پوزی د جوف ټوله برخه بغیر د Vestibule او د پوزی د جوف هغه برخه کومه چی د olfactory mucosa membrane په واسطه پوښل شوی وی پوښوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **Olfactory mucosa**

دغه مخاطی عشاء د پوزی په جوف کی لاندی ساختمانونه پوښنوی.

Superior nasal conchae

Shinoethmoidal Recess

III: Sinuses

دا یوه خالیګاه یا Cavity ده کومه چی د هډوکو او د نورو انساجو ترمنځ وی.

Para nasal sinus

عبارت د یوتعداد خالیګاوو څخه دی چی د پوزی د جوف ګردچاپیره په Sphenoid، Frontal، Ethmoidal او Maxilla هډوکی کی موقیعت لری دغه خالیګاوی په لاندی ډول دی:

- **Frontal sinus**

تعداد یی دوه دانی دی په Frontal هډوکی کی موقعیت لری، دغه دواړه Sinus د Frontal هډوکی څخه عمودی شروع کیږی تر Orbital palate پوری. او دا دوه Sinuses د یو Thin bony layer په واسطه یو له بله جلا کیږی، جګوالی یی 3,2cm دی او پراخوالی یی 2,6cm دی او تخلیه Middle nasal meatus کی صورت نیسی.

- **Maxillary sinus**

په ټولو ساینسونو کی تر ټولو غټ ساینس دی نومورِی جوفونه د Maxilla هډوکی په جسم کی موقعیت لری د هرم شکل لری. Base یا قاعده یی د پوزی د وحشی جدار ته یعنی د اول او دوهم Pre molar غاښونو او دریم Molar غاښ ریښی او کله کله د Canine غاښ ریښه ورپوری مربوطه ده.

اوږودوالی یی 3,5cm او پراخوالی یی 2,5-3cm پوری دی. او تخلیه یی د Middle nasal meatus (Hiatus semilunaris) کی صورت نیسی.

- **Sphenoidal sinus**

دغه ساینس د Sphenoid هډوکی په جسم کی موقعیت لری د Sellaturcica څخه لاندی موقعیت لری دا هم جوړه ساینسونه دی او د Thin bony layer په واسطه یو له بله جلا شوی دی. تخلیه یی د پوزی د جوف په Sphenoethmoidal recess کی صورت نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Ethmoidal sinus -

دغه خالیګاوی د Ethmoid هډوکی کی موقیعت لری، نوموړی خلاوی د مربوطه Orbit له جوف څخه د یوی نازکی هډوکینی پردی په واسطه جدا شوی دی. دغه خلاوی په دریو گروپونو ویشل شوی دی: Anterior , Middle or Posterior

د قدامی او وسطی تخلیه یی په Middle nasal meatus کی صورت نیسی او د خلفی تخلیه یی په Superior nasal meatus کی صورت نیسی.

Function of Sinus

- د سر وزن کموی
- د اواز شدت زیاتوی
- د ضربی په جذب کی رول لری، او نه یی پریږدی چی نورو انساجو ته داخل شی
- Possibly help control immune system



(c) ketabton.com: The Digital Library


Larynx

خنجره

د تنفسی سیستم د اعضاو له جملی څخه یوه عضوه ده چی د اواز د تولید وظیفه هم په غاړه لری، خنجره د متوسط خط په سر د ژبی د قاعدی څخه شروع د Hyoid هډوکی پوری، د څلورمی، پنځمی او شپږمی Cervical فقرو په قدام کی قرار لری. جګوالی یی په نارینه وو کی 44mm او عرضانی قطر یی 43mm دی، او په ښځو کی یی جګوالی 36mm او عرضانی قطر یی 41mm دی. جوړښت یی د نهه عدده عضروفونو،

Membrane او Ligaments څخه ترکیب شوی دی. عضروفونه یی نهه دانی او په دوو ګروپونو ویشل شوی دی:

- **Un paired or single cartilage**
  - Thyroid cartilage
  - Cricoid cartilage
  - Epiglottis cartilage
- **Paired cartilage**
  - Arytenoid cartilage
  - Cuneiform cartilage
  - Corniculate cartilage



(c) ketabton.com: The Digital Library

Un paired or single cartilage

- Thyroid cartilage

د خنجری تر ټولو غټ عضروف دی، دغه عضروف په حقیقت کی له دوه صفحو څخه چی د Quadrilateral lamina په نوم یادیږی تشکیل شوی دی. دغه دواړه صفحی چی په Medline کی سره یوځای کیږی د V زاویه جوړوی چی د Adams apple په نوم یادیږی په خلف کی دواړه صفحی سره جدا کیږی او د ښکرونو په شان جوړښتونه جوړوی چی دوه یی د Superior cornu او دوه یی د Inferior cornu په نوم یادیږی. په خارجی سطحه کی ددی صفحو یو Oblique line دی کوم چی د عضلاتو سره اړیکه لری.

- Cricoid cartilage

د Thyroid cartilage څخه لاندی موقیعت لری، قدامی برخه یی نری او Cricoid arch یا قوس په نوم یادیږی. خو خلفی برخه یی د صفحی په شکل ده چی Cricoid lamina ورته وایی. دغه دواړه برخی یی په اړخونو کی سره یوځای کیږی او مفصلی سطحی جوړوی چی ورته Thyroid articular surface وایی. ددی غضروف علوی څنډو په قدام کی Cricothyroid ligament په واسطه د تایراید عضروف د سفلی کنار یا Trachea سره ارتباط لری.

- Epiglottis cartilage

د کاشوغی په شان شکل لری، چی د ژبی د قاعدی شاته قرار لری، د Larynx لومړنی برخه ده. ددی عضروف علوی نهایت یوه اندازه عریض او ازاد دی، چی د Hyoid هډوکی او د ژبی شاته پورته امتداد لری. د Hyoid bone د موقیعت له نظره پر دوو برخو ویشل کیږی

Supra hyoidal portion
Infra hyoidal portion

داخلی سطحه یی د Mucus membrane په واسطه پوښل شوی ده.

■ Paired cartilage

- Arytenoid cartilage

دغه عضروف د هرم شکل لری د خنجری په خلفی برخه کی د Cricoid lamina له پاسه موقیعت لری، لرونکی د Base او Apex دی. قاعده یی د Cricoid lamina سره وصلیږی، او دوه Process لری:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Medially Process

په انسی کی قرار لری او Vocal process هم ورته وایی، په دی باندی Vocal ligament ارتکاز کوی.

Lateral Process

په وحشی کی موقیعت لری چی د Muscular process په نوم یادیږی او Post cricoarythenoid muscle او Lat cricoarythenoid muscle وربانډی ارتکاز کوی.

- Corniculate cartilage

ددی عضروفونو تعداد هم دوه دانی دی، چی د Arytenoid cartilage سره مفصل کیږی او هم دا عضروفونه د Aryepiglottic fold سره تماس لری، Conical in shape

- Cuneiform cartilage

دا هم دوه عدده عضروفونه دی چی د Rod په شان شکل لری واړه عضروفونه دی او د Aryepiglottic fold په امتداد واقع دی او هغه تقویه کوی.

Joints of Larynx

- Cricothyroid joint

دغه مفصل د Synovial مفصل له جملی څخه دی اومفصلی سطحی یی عبارت دی له:

I: Thyroid articulation surface of cricoid

II: Inferior cornu of thyroid

- Cricoarytenoid joint

دغه مفصل هم د Synovial مفصلونو له جملی څخه دی او مفصلی سطحی یی عبارت دی له:

I: Superior border of cricoid lamina

II: Base of arytenoid

Cavity of Larynx

دغه Cavity د Inlet څخه شروع کیږی تر outlet پوری. په داخل کی د Mucosa membrane دوه Folds وجود لری چی علوی یی د Vestibular fold او سفلی یی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

Vocal fold په نوم یادیږی. د Vestibular fold او Vocal fold د موجودیت په اساس د خنجری جوف په دری برخو ویشل شوی دی:

- **Upper part or Vestibular part**


کوم چی د Vestibular fold څخه دپاسه واقع ده.

- **Lower part or Laryngeal part**

کوم چی د Vocal cord څخه لاندی واقع ده.

- **Middle part or sinus of the larynx**

کوم چی ددی دواړو Folds په منځ کی واقع ده.



Laryngeal ligaments and membrane

■ Thyrohyoid membrane

نوموړی Membrane د Hyoid Bone د Thyroid cartilage په Superior څنډی سره ارتباط لری.

■ Hyeopiglottic ligament

دغه Ligament د Epiglot عضروف د Inferior نهایت له hyoid bone سره ارتباط لری.


■ Cricotracheal ligament

دغه Ligament د Cricoid cartilage سفلی څنډه د Trachea د اولی کړی سره وصلوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Fibroelastic membrane of the Larynx

دغه Membrane د Mucosa په خارجی طبقه کی قرار لری، دغه غشاء د خنجری د جوف په دواړه خواو کی د خنجری د Sinus په واسطه قطع شوی. کومه برخه چی د غشاء د Sinus څخه پورته قرار لری د Quadrate elasticus په نوم یادیږی. او کومه برخه چی لاندی واقع ده د Conus elasticus په نوم یادیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

Vocal cord or vocal fold

In male= Thick and Long

In female= Thin and Short

Trachea


شزن

Trachea یو Fibroelastic tube دی چی جوړ د C Shape عضروفونو څخه دی. د 16 څخه تر 20 پوری C shape عضروفونه سره یوځای کیږی او دغه تیوب جوړوی.

موقیعت یی د خنجری په تعقیب له شپږمی Cervical فقری څخه تر څلورم Thoracic فقری پوری موقیعت لری.

(د غاړی په Lower part کی په Superior Mediastinum کی موقیعت لری)

اوږودوالی یی د 10 څخه تر 20cm پوری دی، قطر یی په نارینه وو کی 2cm او په ښځو کی 1,5cm دی. د Trachea د عضروفونو داخلی سطحه د Mucus membrane په واسطه پوښل شوی، Trachea د څلورمی Thoracic فقری په ښکتنی سرحد کی په دوه برخو ویشل کیږی چی دغه برخی یی د Right Principal (main) Bronchus او Left Principal (main) Bronchus څخه عبارت دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

Bronchus

برانکسونه

شزن د T4 فقری په ښکتنی برخه کی په دوه برخو ویشل شوی دی، چی هره برخه یی د Principal (main) Bronchus په نوم یادیږی. دغه دواړه برانکسونه یو یی ښی سږی ته او بل یی چپ سږی ته ځی. ښی یا Right bronchus نظر چپ Bronchus ته لوی، پراخ، لنډ او عمودی واقع دی.

Right Primary Bronchus

دا لاندی برانچونه ورکوی:

- Superior Lobar Bronchus

دا د ښی سږی په داخل کی په دری نورو برانچونو یا شاخونو باندی ویشل کیږی:

- Apical segmental bronchus
- Posterior segmental bronchus
- Anterior segmental bronchus

- Middle Lobar Bronchus

د ښی سږی په داخل کی په لاندی شاخونو ویشل کیږی:

- Medial segmental bronchus
- Lateral segmental bronchus

- Inferior Lobar Bronchus

دا هم د ښی سږی په داخل کی په لاندی شاخونو ویشل کیږی:

- Apical basal segmental bronchus
- Anterior basal segmental bronchus
- Lateral basal segmental bronchus
- Posterior basal segmental bronchus
- Medial basal segmental bronchus

(c) ketabton.com: The Digital Library

Left Primary Bronchus

دا لاندی شاخونه ورکوی:

- **Left Superior Lobar Bronchus**


دا په داخل د چپ سږی کی لاندی شاخونه ورکوی:

- Apical segmental bronchus
- Posterior segmental bronchus
- Anterior segmental bronchus
- Lingular bronchus

- **Left Inferior Lobar Bronchus**

د چپ سږی په داخل کی لاندی شاخونه ورکوی:

- Apical basal segmental bronchus
- Anterior basal segmental bronchus
- Lateral basal segmental bronchus
- Posterior basal segmental bronchus
- Medial basal segmental bronchus



(c) ketabton.com: The Digital Library

Thoracic Cage

د سيني صندوقچه

دغه برخه د غاړی او بطن ترمنځ موقیعت لری. دری برخی لری یو یی Middle part دی چی د Mediastinum په نوم یادیږی او دوه یی Lateral (چپ او ښی) برخی دی چی د سږو او پلورا په واسطه اشغال شوی دی.

Mediastinum

د سینی د جوف هغه برخه ده چی د دواړو سږو د انسی سطحو ترمنځ موقیعت لری.

د Horizontal Plane له مخی په دوه برخو ویشل کیږی:

- Superior Mediastinum: (Above the plane)
- Inferior Mediastinum: (Below the plane)

Inferior Mediastinum په خپل منځ کی په لاندی دری برخو ویشل کیږی (د Pericardium په اساس)

- Anterior Mediastinum: (In front of Pericardium)
- Middle Mediastinum: (Contains Heart and Pericardium)
- Posterior Mediastinum: (Behind the Pericardium)

Superior Mediastinum Boundaries

حدود

- Anterior: (Manubrium sterni)
- Posterior: (Upper 4 thoracic vertebrae)
- Superior: (Thoracic inlet)
- Inferior:

د علوی او سفلی Mediastinum ترمنځ بیلونکی سطحه (Horizontal plane)

- On each side: (Mediastinal Pleura)

Posterior Mediastinum Boundaries

- Anterior: (Pericardium and Diaphragm)
- Posterior: (Lower 8 thoracic vertebrae)
- Superior: (Horizontal plane)
- Inferior: (Diaphragm)

(c) ketabton.com: The Digital Library

- On each side: (Pleura)

Pleura
پلورا

د سږو خارجی سطحه او د Thoracic cavity داخلی جدار د یو سروزی غشاء په واسطه پوښل شوی دی چی هغی ته Pleura وایی.

له دوه برخو څخه جوړه شوی ده:

- Parietal Pleura

نسبت Visceral pleura ته ضخیمه ده او د سینی د جوف داخلی سطحه پوښنوی.

د موقیعت په لحاظ په څلورو برخو ویشل شوی ده:

- Cervical Pleura

دا پلور د Dome shape شکل لری، د سږو Apex پوښنوی.

- Costal Pleura

د Ribs او Inter costal spaces داخلی سطحی پوښنوی.

- Mediastinal Pleura

دا پلور د Mediastinum وحشی Lateral جدار جوړوی.

- Diaphragmatic Pleura

هر طرف ته د حجاب حاجز پورتنی ساحه Thoracic surface پوښنوی.

- Visceral Pleura

د پلورا هغه برخه ده چی سږی پوښنوی او د سږو ترمنځ درزونو (Fissure) ته ننوځی.

د دواړو پلورا ګانو ترمنځ فاصله موجوده ده چی ورته Pleural space یا Pleural cavity وایی، په دی کی په کم مقدار سره مایع وجود لری چی د Pleural fluid په نوم سره یادیږی.

Respiratory zone

- Defined by the presence of alveoli, begins as terminal bronchioles feed in to respiratory bronchioles.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Respiratory bronchioles lead to alveolar ducts, then to terminal clusters of alveolar sacs composed of alveoli.
- Approximately 300 million alveoli.
- Account for most of the lungs, volume.
- Provide tremendous surface area for gas exchange.

Gross Anatomy of the Lungs

سږی ګلابی رنګ لری، د تنفسی سیستم مهمه عضوه ده. تعداد یی دوه دانی دی. چی د سینی د جوف په دواړو خواو کی قرار لری په استثنی د Mediastinum څخه.

یو Apex لری چی د Clavicle د هډوکی څخه 2,5cm پورته موقیعت لری، او یو Base یا قاعده لری کوم چی مقعر شکل لری او د Thoracic surface of diaphragm باندی له پاسه قرار لری.

سږی دري Borders یا کناروونه لری:

- Anterior Border
- Posterior Border
- Inferior Border

همدرانګه هر سږی دوه سطحی لری:

- Lateral surface or Costal surface

دا سطحه محدب شکل لری، په دوه برخو ویشل شوی ده، یوه یی posterior part یا خلفی برخه چی Vertebral part هم نومیږی. او بل یی قدامی یا Anterior part دی چی Mediastinal part هم ورته ویل کیږی.

- Medial surface or Mediastinal surface

دا سطحه یی مقعر شکل لری، په دی سطحه کی د سږو Hilus وجود لری. خو په چپ سږی کی Cardiac impression هم وجود لری.

Right lung

ښی سږی د چپ سږی په نسبت لږ لوی دی او د Horizontal او Oblique درزونو یا Fissure په واسطه په دری Lobes یا فصونو تقسیم شوی دی چی عبارت دی له:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Superior lobe
- Middle lobe
- Inferior lobe

Left Lung

چپ سږی د Oblique درز په واسطه په دوه Lobes تقسیم شوی دی چی عبارت دی له:

- Superior lobe (Lower)
- Inferior lobe (Upper)




Figure 23.07 Tortora - PAP 12/e
Copyright © John Wiley and Sons, Inc. All rights reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library





Figure 23.09 Tortora - PAP 12/e

Copyright © John Wiley and Sons, Inc. All rights reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

10th chapter

Urinary System





Mr.18

Kefayatullah.naibamani

Mr.18 | BY: KEFAYATULLAH NAIB AMANI 078 4 59 75 49


(c) ketabton.com: The Digital Library

بولی تناسلی سیستم له دوه برخو څخه تشکیل شوی ده:

- Urinary system بولی سیستم
- Genital (Reproductive) System تناسلي سیستم

Urinary System

بولي سیستم



بولي سیستم د لاندی غړو څخه جوړ شوی دی:

- Kidneys
- Ureters
- Bladder
- Urethra

(c) ketabton.com: The Digital Library

Kidneys

پښتورګي

پښتورګی د Rennes او Nephron په نوم هم یادیږی.

پښتورګي د لوبیا په شان شکل لری، چی د Abdomen په Posterior wall کی د Peritoneum شاته د Vertebral columns په دواړو خواوو کی موقیعت لری.

پښتورګي عموداً د T12 (د دولسمی صدری فقری) د پورتنی سرحد څخه د دریمی Lumber فقری د جسم منځنی برخی پوری امتداد لری. هر پښتورګي تقریباً 12cm طول، 6cm عرض، او 3cm ضخامت لری. د چپ پښتورګي طول له ښی پښتورګی څخه لږ څه زیات او ضخامت یی ورڅخه کم دی. د پښتورګی وزن په نارینه وو کی 150gr او په ښځو کی 135gr دی.
پښتورګي سور نصواری (Red brown) رنګ لری.

هر پښتورګي دوه نهایتونه یا Ends لری:

- Superior
- Inferior

هر پښتورګي دوه کنارونه یا Borders لری:

- Medial کوم چی مقعر یا Concave دی.
- Lateral کوم چی محدب یا Convex دی.

او هر پښتورګی دوه سطحی یا Surfaces لری:

- Anterior کومه چی غیری منظمه سطحه ده.
- Posterior کومه چی همواره سطحه ده.

هر پښتورګي له داخل څخه بیرون خواته د لاندی پوښونو په واسطه احاطه شوی ده:

- Fibrous capsule
- Perirenal fat
- Renal fascia
- Pararenal fat

دغه پوښونو Kidney ته Stability ورکوی او د Trauma څخه یی ساتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Structure of Kidney

د پښتورګي ساختمان

Macroscopic Structure

هر پښتورګي د ساختمان له نظره له دری برخو څخه جوړ شوی دی:

■ Renal Cortex

سور نصواری رنګ لری، او دوه برخی لری:

- **Cortical arches**

د cortex دغه برخه د Renal pyramids قاعده یا Base پوښنوی. او هر Pyramid د مربوطه Cortical Arche سره د پښتورګی Lobe جوړوی.

- **Cortical columns**

د Cortex دغه برخه د Renal pyramids ترمنځ ښکته کیږی.


■ Renal Medulla

خاسف یا Pale رنګ لری، د پښتورګي دوهمه برخه ده، د پښتورګي دا برخه د لس مخروطی کتلو څخه چی Renal Pyramids نومیږی تشکیل شوی ده. د هریو Renal pyramid زروه یا Apex د Renal Papilla په نوم یادیږی چی د مربوطه Minor calyx سره ارتباط لری.

■ Renal sinus

د یو جوف شکل لری، دا د Minor calices له ابتدایی برخو څخه شروع تر Hilus پوری امتداد لری، او دا په حقیقت کی د Minor calices، Major calices او Renal Pelvis له یوځای کیدو څخه منځته راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Anterior view of dissection of right kidney


Copyright © John Wiley & Sons, Inc. All rights reserved.

Microscopic Structure

Nephron

د پښتورګي ساختمانی او وظیفوی واحد د نفرون څخه عبارت دی. او هر پښتورګي د 1 څخه تر 4 میلونو پوری نفرونونه لری.





(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفرون ساختمان په لاندی ډول دی:

- The Renal Corpuscle

د نفرون دغه برخه د Glomerulus او Bowman's څخه جوړه شوی ده.

- The Renal Tubule

دا له لاندی ساختمانونو څخه جوړ شوی دی:

a: Proximal convoluted tubule

b: Loop of Henle

c: Distal convoluted tubule

Juxtaglomerular apparatus

دغه ساختمانونه Glomerulus ته نږدی په وعایی طقب کی موقیعت لری.

دغه ساختمانونه له دریو مختلفو جوړښتونو څخه جوړ دی:

- Juxtaglomerular cells
- Macula densa
- Lacis cells

Function of The kidney

د پښتورګي دندی

- Filtration of waste products from the blood.
- Tubular reabsorption of useful substances from the filtrate.
- Tubular secretion of unwanted substances back into the collecting duct.
- Maintaining normal blood pressure by balancing electrolytes in the blood.

(c) ketabton.com: The Digital Library

The Ureters


حالبونه


حالبونه Muscular tubes دی چی د Urine په انتقال کی له پښتورګو څخه مثانی ته رول لری. پورتنی برخه یی د Abdomen په خلفی جدار او ښکتنی برخه یی د Pelvis په وحشی جدار کی قرار لری، اوږدوالی یی 25cm او طول یی 3mm دی.

Constriction of ureter

حالبونه په خپل سیر کی په دری ځایو کی تنګوالی لری چی په لاندی ډول سره دی:

- Pelviuretral junction
- Brim of the lesser pelvis
- Where it pierces the bladder wall





(c) ketabton.com: The Digital Library

Urinary Bladder

مثانه

مثانه یو Collapsible muscular sac دی، چی ادرار په ذخیره کولو کی رول لری. کله چی مثانه خالی وی نو د څلور ضلعی (Tetrahedral) شکل لری، او په Pelvis یا حوصله کی موقیعت غوره کوی، خو کله چی له ادرار یا Urine څخه ډکه شی نو Spherical shaped یا Ovoid شکل غوره کوی، چی بیا تر Imblicas پوری رسیږی.

External features of urinary bladder

د مثانی خارجی شکل

کله چی مثانه خالی وی نو لاندی برخی لری:

- Apex
- Base
- Neck

دری سطحی یا Surfaces لری:

- Superior
- Two Lateral

څلور کنارونه یا Borders لری:

- Two Lateral
- Anterior
- Posterior

خو کله چی مثانه ډکه وی نو د لاندی برخو لرونکی وی:

- Apex
- Neck چی Ureter ورته خلاصیږی.

او دوه سطحی لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Inner surface of urinary bladder

د مثانی داخلی ساختمان

کوم وخت چی مثانه تشه وی نو Mucus membrane یوه اندازه زیاتی ګونځی یا Folds لری.


د مثانی ظرفیت په کاهلو انسانانو کی له 120 څخه تر 320cc پوری دی.


Layers of Urinary bladder

د مثانی اناټومیک جوړښت

مثانه له داخل څخه خارج خواته د لاندی طبقو څخه جوړه ده:

- An Inner mucosa membrane -
- Sub mucosa -
- A thick coat of smooth muscle -
- An outer serous layer -





(c) ketabton.com: The Digital Library

The Urethra

احلیل

دا یو Tubular ساختمان دی، چی د مثانی له قاعدی یا Base څخه شروع کیږی تر External orifice پوری امتداد لری، په نارینه وو کی یی د بښځو په نسبت اوږودوالی زیات دی تقریباً تر 20cm پوری رسیږی او په بښځو کی لنډ وی چی اوږودوالی یی د 3 څخه تر 4cm پوری رسیږی.

احلیل نظر خپل سیر ته په لاندی برخو تقسیم شوی دی:

- Prostatic part
- Membranous part
- Spongy (Penile) Urethra


Urethral sphincters

- Internal Urethral sphincter

دا یو غیری ارادی Involuntary معصره یا Sphincter ده، چی د Smooth muscle د الیافو څخه جوړ شوی دی.

- External Urethral sphincter


دا یو ارادی Voluntary معصره یا Sphincter ده چی مخططو عضلی الیافو Striated muscle fibers څخه جوړه شوی. دغه Sphincter د Urine کنټرول دنده په غاړه لری.



(c) ketabton.com: The Digital Library

11th chapter

Cardiovascular System





Mr.18

Kefayatullah.naibamani

(c) ketabton.com: The Digital Library

Cardiovascular system

د Cardio کلیمه له Cardiac څخه اخستل شوی ده چی د Heart (Cor) یا د زړه معنا ورکوی.

او د Vascular کلیمه د Blood vessels معنا ورکوی.

